د افغـانستان اسلامــي امارت

امـارت اسلامــي افغـانستان

Islamic Emirate of Afghanistan

د افغانستان د علومو اکاډمۍ

او تخنیکي او مسلکي زده کړو ادارې

ترمنځ

د علمي او څېړنیزو همکاریو

په اړه

د همکارۍ هوکړه لیک

تفاهمنامه همکاری

میان

اکادمی علوم افغانستان

و اداره تعلیمات تخنیکی و مسلکی

پیرامون

همکاری های اکادمیک و تحقیقاتی

سال: ۱۴۴۵ - ۱۴۰۳

کال: ۱۴۴۵ - ۱۴۰۳

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

**سریزه:**

اَلْحَمْدُ لله رَبِّ الْعَالَمِينَ وَالصَّلاَةُ وَالسَّلاَمُ عَلَى أَشْرَفِ الْأَنْبِيَاءِ وَالْمُرْسَلِينَ وَعَلَى ءَالِهِ وَصَحْبِهِ أَجْمَعِينْ . و بعد؛

د دې هوکړه لیک موخه د افغانستان د علومو اکاډمۍ او تخنیکي او مسلکي زده کړو ادارې تر منځ د علمي اړیکو پیاوړتیا ده، په دې هوکړه لیک کې بېلابېل توکي لکه: علمي موخې او د دوام لرونکو علمي او څېړنیزو همکاریو د پیاوړتیا په تمرکز د دواړو لوریو ژمنې، شامل دي. دغه سند د تخنیکي او مسلکي زده کړو ادارې مسئولیتونه چې د علمي څېړنو دودول، د علمي سمینارونو برابرول او په ښوونیز نظام کې د هغو د پایلو شریکول دي روښانه کوي. همهاله د افغانستان د علومو اکاډمي د ښوونیزو او علمي سمینارونو وړاندې کولو، د څېړنیزو امکاناتو برابرولو او په علمي هڅو کې د څېړونکو هدایت ته ژمنه ده. په دې هوکړه لیک کې د ترسره کېدو نور تفصیلات، د نظریاتو په توپیر سره توافق او د هغې حل لارې راغلې دي.

**مقدمه**

اَلْحَمْدُ لله رَبِّ الْعَالَمِينَ وَالصَّلاَةُ وَالسَّلاَمُ عَلَى أَشْرَفِ الْأَنْبِيَاءِ وَالْمُرْسَلِينَ وَعَلَى ءَالِهِ وَصَحْبِهِ أَجْمَعِينْ . و بعد؛

هدف این تفاهم تقویت روابط علمی بین ادارهٔ اکادمی علوم افغانستان و ادارهٔ تعلیمات تخنیکی و مسلکی می باشد. این تفاهم نامه شامل مواردی مختلف مانند اهداف کار بردی و تعهدات طرفین با تمرکز به تقویت همکاری های علمی - تحقیقی دوامدار می باشد. این سند مسئولیت های اداره تعلیمات تخنیکی و مسلکی را که شامل ترویج تحقیقات کاربردی، تسهیل سمینار های علمی و شریک ساختن نتایج یافته های آن در سیستم آموزشی است، مشخص می‌کند. همزمان، اکادمی علوم افغانستان متعهد به برگزاری سمینارهای علمی و آموزشی، فراهم کردن امکانات تحقیقاتی و هدایت محققین در تلاش های علمی کاربردی می باشد. در این تفاهمنامه تفصیلات بیشتر امور اجرایی، توافق نامه با تفاوت نظریات وراه حل آن درج گردیده است.

**د افغانستان د علومو اکاډمۍ لنډه پېژندنه**

د افغانستان اسلامي امارت د علومو اکاډمي د لوی علمي او څېړنیز بنسټ په حیث، د هېواد په کچه د اسلامي، طبعي، تخنیکي او بشري علومو په برخه کې د علمي او څېړنیزې رهبرۍ او سازمان ورکولو مسئولیت په غاړه لري.

په بېلابېلو برخو کې د علمي څېړنو تر سره کول او د ټولنیز حالت ښه والي، کلتوري بډاینې، اقتصادي ودې، د سرچینو او طبعي زیرمو د ارزونې او له هغو څخه د موثرې ګټې اخستنې، د پوهې کچې د لوړوالي کمي او کیفي ودې ښه والي او په هېواد کې د زده کړو او اسلامي او دیني کلتور پیاوړتیا لپاره دغه څېړنې همغږې کول د علومو اکاډمۍ موخې تشکیلوي.

**شرح مختصر اکادمی علوم افغانستان**

اکادمی علوم امارت اسلامي افغانستان به مثابهٔ عالیترین نهاد علمی - تحقیقی در سطح کشور، مسؤلیت سازماندهی و رهبری امور علمی - تحقیقی را در بخش های علوم اسلامی ، طبیعی، تخنیکی و بشری به عهده دارد.

انجام تحقیقات علمی در عرصه های مختلف و انسجام این تحقیقات جهت بهبود وضع اجتماعی، غنامندی فرهنگی، رشد اقتصادی، ارزیابی منابع و ذخایر طبیعی و طرق استفاده مؤثر از آنها، بهبود رشد کمی و کیفی ارتقای سطح علم و دانش و تقویه فرهنگ دینی و اسلامی در کشور اهداف اکادمی علوم را تشکیل میدهد.

## د تخنیکي او مسلکي زده کړو ادارې لنډ پېژندنه

د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره تل هڅه کوي، تر څو د دولتي ارګانونو او ادارو، تشبثاتو او خصوصي سکتور د کاري شاخصونو او اړتیاوو په اساس، د طرحو او میکانیزمونو په را منځته کولو او پراختیا سره چې له کار بازار او د وخت غوښتنو سره سمون ولري، د موخو لرونکو او رغوونکو زده کړو زمینه برابر کړي او د (تیوریک او پرکتیک) زده کړو فضا برابرولو په برخه کې د دوه اړخیزې همکارۍ روحیې په رامنځته کولو سره ثابت، علمي او موثر ګامونه پورته کړي، تر څو د هېواد راتلونکی جوړوونکي د متحرک او مسلکي کسانو په حیث، د ټولنې د اړتیاوو او دوه اړخیزو ژمنو پر بنسټ د زده کړو او فني، حرفوي او مسلکي مهارتونو په ګاڼه سمبال کړي

## شرح مختصر اداره تعلیمات تخنیکی و مسلکی

ادارهٔ تعلیمات تخنیکی و مسلکی افغانستان دایماً تلاش می نماید تا زمینه آموزش هدفمند و سازنده را بر اساس نیازمندی ها و شاخص های کاری ارگان ها و دوایر دولتی، تشبثات و سکتور خصوصی با ایجاد و انکشاف طرح ها و میکانیزم هایی که با بازار کار و اقتضای عصر و زمان مطابقت داشته، فراهم آورد و در جهت مساعد نمودن فضای آموزش (تیوریک و پرکتیک) با ایجاد روحیه همکاری متقابل گام های استوار، عملی و موثٔر بر دارد تا آینده سازان کشور، منحیث یک فرد مسلکی و با تحرک بر اساس ضرورت و نیاز جامعه با پشتکار و تعهدات متقابل در جهت کسب دانش و مهارت های فنی، حرفوی و مسلکی آراسته گردند.

## لومړی څپرکی
## عمومي احکام

## فصل اول
## احکام عمومی

### د هوکړه لیک موخه

**لومړۍ ماده:**

د غه هوکړه لیک د افغانستان د علومو اکاډمۍ او تخنیکي او مسلکي زده کړو ادارې تر منځ د علمي اړیکو رامنځته کولو په موخه لاسلیک شوی دی.

### منظور تفاهمنامه

**ماده اول:**

این تفاهمنامه به منظور ایجاد روابط اکادمیک فی مابین اداره اکادمی علوم افغانستان و تعلیمات تخنیکی و مسلکی منعقد گردیده است.

### موخې

**دویمه ماده:**

د دې هوکړه لیک موخه د علمي اړیکو ټینګښت لپاره د دواړو لوریو ژمنې او ګډو موخو ته د رسېدو په برخه کې له فرصتونو، ظرفیتونو، امکاناتو او علمي لاسته راوړنو څخه غوره او موثره ګټه اخیستنه ده.

### اهداف

**ماده دوم:**

هدف این تفاهمنامه تعهد طرفین به منظور تحکیم روابط اکادمیک و همکاری های مستمرعلمی- تحقیقی آموزشی و استفاده بهینه و مؤثر از فرصت ها امکانات ظرفیت ها و دستاورد های علمی کاربردی در راستای تحقق اهداف طرفین می باشد.

### د پلي کولو ساحه

**دریمه ماده:**

دغه هوکړه لیک په علومو اکاډمۍ اداره او تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره کې د پلي کولو وړ دی.

### ساحه تطبیق

**ماده سوم:**

ساحه تطبیق این تفاهمنامه ادارهٔ اکادمی علوم و اداره تعلیمات تخنیکی و مسلکی میباشد.

## دویم څپرکی

## د دواړو لوریو ژمنې

**د تخنیکي او مسلکي زده کړو ادارې مکلفیتونه**

**څلورمه ماده:**

۱- د علمي څېړنو پېژندل، چې په دې اداره کې یې په عملي توګه د پلي کولو زمینه برابره وي.

۲- د علومو اکاډمی څېړونکو ته د تخنیکي او مسلکي زده کړو ادارې د لابراتوارونو، ورکشاپونو، څېړنیزو ساحو او کتابتونونو په واک کې ورکولو په اړه همکاري.

۳- د افغانستان د اکاډمیکو علومو د څېړونکو لپاره په مرکز او ولایتونو کې د تخنیکي او مسلکي زده کړو د ادارې اړوند د اړینو فرصتونو معرفي او شریکول.

۴- د دې ادارې د ښوونیز نظام د ښه والي په برخه کې د سمینارونو او د څېړونکو علمي کنفرانسونو وړاندې کولو او د ننداړتونونو د بیاکتنې په اړه هر اړخیزه همکاري.

۵- د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره کولای شي، چې کتابونه او د خپلې اړتیا وړ آثار د افغانستان له علومو اکاډمی څخه تهیه او تر لاسه کړي.

۶- د افغانستان له علومو اکاډمی سره د تخنیکي او مسلکي زده کړو ادارې د علمي لاسته راوړنو شریکول.

**د افغانستان د علومو اکاډمی مکلفیتونه**

**پنځمه ماده:**

۱- د تخنیکي او مسلکي زده کړو ادارې د فني او تدریسي کادر غړو لپاره د لارښوونې او علمي سمینارونو دایرولو په ځانګړې توګه د اصولو او څېړنې اساساتو په برخه کې هر اړخیزه همکاري.

۲- له تخنیکي او مسلکي زده کړو ادارې سره د هېواد له نافذه قوانینو او اصولو سره سم د څېړونکو له لوري د هغو علمي څېړنو د پایلو او وړاندیزونو شریکول، چې تر دې دمه تر سره شوې وي.

۳- د لابراتوارونو، ورکشاپونو او نورو امکاناتو په واک کې ورکول .

## فصل دوم

## تعهدات طرفین

**مکلفیت های اداره تعلیمات تخنیکی و مسلکی**

**ماده چهارم:**

۱-معرفی تحقیقات کاربردی که عملاً زمینه تطبیق آن در این اداره موجود باشد.

۲- همکاری در اختیار قرار دادن لابراتوار ها، ورکشاپ ها، ساحات تحقیقی و کتابخانه های اداره تعلیمات تخنیکی و مسلکی برای محققین اکادمی علوم افغانستان.

۳- معرفی و شریک سازی امکانات لازم ذیربط ادارهٔ تعلیمات تخنیکی و مسلکی در مرکز و ولایات برای محققین اکادمی علوم افغانستان.

۴- همکاری همه جانبه در اجرای سمینارها، و کنفرانس های علمی محققین و بازدید از نمایشگاه ها در راستای بهبود بخشی نظام آموزشی این اداره.

۵-ادارهٔ تعلیمات تخنیکی و مسلکی میتواند کتب و آثار مورد نیاز خویش را از اکادمی علوم تهیه و تدارک می نماید.

۶- شریک ساختن دست آورد های کاربردی ادارهٔ تعلیمات تخنیکی و مسلکی با ادارهٔ اکادمی علوم افغانستان.

**مکلفیت های اکادمی علوم افغانستان**

**ماده پنجم:**

۱- هکاری همه جانبه درحصه برگزاری سمینار های علمی و رهنمودی در خصوص اصول و اساسات تحقیق برای اعضای کادر فنی و تدریسی ادارهٔ تعلیمات تخنیکی و مسلکی.

۲-شریک ساختن نتایج و پیشنهادات تحقیقات علمی و کاربردی انجام شده توسط محققان با ادارهٔ تعلیمات تخنیکی و مسلکی که تاهم اکنون اجراگردیده باشد، مطابق اصول و مقررات نافذه کشور.

۳- در اختیارقرادادن لابراتوار ها، ورکشاپ ها و سایر امکانات دست داشته .

۴- د علمي څېړنو په برخه کې د اداري څېړونکو ته علمي او مسلکي لارښوونې او مشورې ورکول.
۵- د تخنیکي او مسلکي‌زده کړو اداري له غوښتنو سره سم د ګډو علمي څېړنو تر سره کول.
۶- د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري د علمي څېړنو بورډ ته د علومو اکاډمی استازي ورپېژندل.
۷ – د ګډو علمي سمینارونو او کنفرانسونو دایرول.
۸ – د علومو اکاډمی سمینارونو ته د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري د مسئولینو او مسلکي غړو بلنه.
۹ – د اړونده تعلیمي او تحصیلي نصاب په رامنځته کولو، پراختیا او بیا کتنه کې هر اړخیزه همکاري.
۱۰ – په اړونده لابراتواري او مسلکي ساحوي کارونو کې هر اړخیزه همکاري.

## دریم څپرکی

## متفرقه احکام

**د دواړو لوریو د استازو مکلفیتونه**

**شپږمه ماده:**

(۱) صلاحیت لرونکي استازي چې د دواړو لوریو په موافقه ټاکل کیږي لاندې دندې به لري:
۱- د دې هوکړه لیک له پلي کولو څخه څارنه.
۲- د هوکړه لیک په پلي کولو کې د ستونزو او ننګونو حل.
۳- د هوکړه لیک د پلي کولو څرنګوالي راپور ترتیب او وړاندې کول.
۴- د هوکړه لیک د غوره او موثر پلي کولو په برخه کې د دواړو لوریو د کړنو ښه والي لپاره د وړاندیزونو وړاندې کول.

**د اختلافونو حل**

**اوومه ماده:**

د دې هوکړه لیک له پلي کولو او تفسیر څخه د اختلافونو او شخړو را پیداکېدو په صورت کې او یا داسې موضوعاتو کې چې په دې هوکړه لیک کې یې وړاندوینه نه وي شوې، موضوع به د دواړو لوریو د صلاحیت لرونکو استازو له لوري د هېواد له نافذه قوانینو سره سمه حل او فصل کیږي.

۴- رهنمایی و مشوره دهی علمی و مسلکی برای محققین این اداره در راستای تحقیقات کاربردی.
۵- اجرای تحقیقات علمی کاربردی مشترک مطابق فرمایشات ادارهٔ تعلیمات تخنیکی و مسلکی .
۶-معرفی نماینده اکادمی در بورد هیأت تحریر و تحقیقات علمی ادارهٔ تعلیمات تخنیکی و مسلکی.
۷– تدویر سمینار ها و کنفرانسهای علمی مشترک.
۸– دعوت مسؤلین و اعضای مسلکی ادارهٔ تعلیمات مسلکی در سمینار های اکادمی علوم .
۹ – همکاری همه جانبه در ایجاد، انکشاف و بازنگری نصاب تعلیمی و تحصیلی مربوطه.
۱۰ – همکاری همه جانبه در کارهای لابراتواری و ساحوی مسلکی مربوط.

## فصل سوم

## احکام متفرقه

**مکلفیت های نماینده گان طرفین**

**ماده ششم:**

(۱) نماینده های با صلاحیت که با توافق طرفین تعیین می گردند وظایف ذیل را به عهده خواهند داشت:.
۱- نظارت از صورت تطبیق این تفاهمنامه
۲- حل مشکلات و چالش های فرا روی تطبیق تفاهمنامه
۳- تهیه و ارائه گزارش ها از چگونگی تطبیق تفاهمنامه
۴- ارائه راهکارها و پیشنهادات جهت بهبود اجراات طرفین در راستای تطبیق بهتر و موثر تفاهمنامه

**حل اختلافات**

**ماده هفتم:**

در صورت بروز اختلافات و منازعات ناشی از تطبیق و تفسیر این تفاهمنامه و یا مواردیکه در این تفاهمنامه پیشبینی نگردیده، موضوع از طریق مذاکره و موافقه نماینده های باصلاحیت طرفین مطابق قوانین نافذه کشورحل و فصل می گردد.

## تعدیلات

**آتمه ماده:**

د اړتیا پر مهال په هرو پنځو کلنو کې به دغه هوکړه لیک د دواړو لوریو په موافقه بیا کتل کیږي، که چیرې له دواړو لوریو څخه کوم یو یې د دې هوکړه لیک د مادو د تعدیل غوښتنه ولري، له موضوع څخه درې میاشتې وړاندې به مقابل لوري ته خبر ورکوي.

## د هوکړه لیک د اعتبار نېټه

**لسمه ماده:**

د دواړو لوریو د نظر یا وړاندیز نشتوالي په صورت کې، دغه هوکړه لیک د ډېرو کلونو لپاره د اعتبار وړ دی.

## د هوکړه لیک لاسلیک او نافذېدل

**یوولسمه ماده:**

دغه هوکړه لیک په / / ١٤٤٦ هجري شمسي نېټه چې له / /١٤٠٣ هجری قمري نېټې سره سمون خوري د یوولس مادو په لړلو سره ترتیب او د دواړو لوریو له لوري لاسلیک کیږي.

## تعدیلات

**ماده هشتم:**

در صورت ضرورت هر پنج سال این تفاهمنامه به موافقه طرفین مورد بازنگری قرار می گیرد. در صورتیکه هر یک از طرفین تقاضای تعدیل مواد این تفاهمنامه را داشته باشند، موضوع را سه ماه قبل به طرف مقابل اطلاع دهد.

## مدت اعتبار تفاهمنامه

**ماده دهم:**

در صورت عدم موجودیت نظر و یا پیشنهاد طرفین، تفاهمنامه برای سالیان متمادی قابل اعتبار خواهد بود.

## امضاء و انفاذ تفاهمنامه

**ماده یازدهم:**

این تفاهمنامه به تاریخ / /١٤٤٦ هجری شمسی مطابق / /١٤٠٣ هجری قمری حاوی یازده ماده ترتیب و از جانب طرفین منعقد میگردد.

د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري لخوا

**مولوي غلام حیدر شهامت**

**د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري سرپرست**

لاسلیک...

از طرف اکادمی علوم افغانستان

**شیخ الحدیث مولوي فرید الدین محمود**

**د افغانستان د علومو اکاډمۍ عمومي رئیس**

لاسلیک...